مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: محمد رسول باوري
رالیږونکی: احسان الله اریزی

۲۰۲۴/۰۴/۲۷

# غازي محمد جان خان وردګ

## او د هغه په نوم ياده سوې يوه سکه

## وردګ د تاريخ په بهير کې سيمينار

### پنځه‌لسمه مقاله

**کوم دا ليونتوب چي غوغا را باندي راسي**
**سکه وهم پر زرو چي خاوند يي راپيدا سي**



ليکوال: محمد رسول باوري [1]

دا بيت د هغي سکي پر مخ حک شوی دی چي د محمد جان خان وردګ په نوم ياده سوېده. پخوا تر دې چي د دې سکې په اړه خه ووايم اړينه ګڼم چي د سکه پوهني او د مسکوکاتو پر يو شمير ځانګړنو په لنډه توګه تم شم.

سکه پوهنه، د لرغونو زمانو د بيا پيژندلو خورا ډاډمنه پوهه ده. دا پوهنه د لرغونو او تاريخي ټولنو د پيژندلو په اړه هر اړخيز مالومات د څيړونکو او پوهانو په واک کي ورکوي . دا مالومات د اقتصادي ورتيا بيا تر ټولنيزي اړتيا د عقيدتی ارزښته بيا تر کلتوري درښنته، ټولي خواوی رانغاړي .د همدی امله د سکې پوهني علم د يوه خپلواک دسپلين په توګه د نورو علومو تر منځ ځانګړی موقف او دريځ تر لاسه کړيدی.

په پخوانيو تاريخي ټولنو کي د بنسټيز بدلون نښي هغه مهال په بشپړه توګه ډاډمني ګڼل کيږي چي د هغو ټولنو په مسکوکاتو کي د هغه بدلون انعکاس راغلی وي. په مسکوکاتو کي حک سوي انځورونه، ليکل سوي متنونه، د مسکوکاتو وزن، د مسکوکاتو فلزی نوعيت او په مسکوکاتو کي نوري پرتی نښي، زموږ سره دا مرسته کولای سي چي په ډاډ د هغی ټولني ربښتيني انځور لاس ته راوړو.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ



د میرزکې مسکوکات

د شکه پرته ویلای شو چي د سوداګری کچه، د اقتصادي پیاوړتیا نښي، په ټولنه کي د عامو وګړو د ژوندانه څرنګوالی، د عامه ګټو له پاره د تاسیساتو اندازه او نور د خپل پیر د مسکوکاتو څخه په خورا اسانه توګه را پیدا کولای شو.په دې ډول د هري دورې د مسکوکاتو نوعیت او کمیت د هغې دورې د اقتصادي حالاتو بشپړ بیان کوي، چي د مسکوکاتو د دې اړخ بیان ، د دې لیکني موخه نه ده، نو ځکه په همدې یوه پاراګراف بسنه کوو.

اوس به د مسکوکاتو پر سمبولونو او لیکنو لنډ تم سم . په مسکوکاتو کي د سمبولونو دود د پخوانیو زمانو راهیسي پیل شوي دی . په مسکوکاتو کي د سمبولونو حک کول او یا د نښو کیندل په بیلا بیلو ټولنو کي بیلا بیل تعبیرونه لري، دلته د کوشاني دورې یوه سمبول ته پام اړو :
د کنشکا او له هغه وروسته کوشاني پاچاهانو په زمانو کې د سکو پر مخ د نیزې نښه یوه ځانګړې علامه ده، چې د یو عام دود او دستور په حیث د کوشاني واکمنانو له لوري عملي شوې دی . هر کوشاني پاچا په خپل نوبت د خپلې سکې پر مخ د نیزې حك کول د یوې خاصې علامې په حیث دود کړېده.۲

د کوشاني سکو پر مخ د نیزې انځورول او حك کېدل سربیره پر دې، چې په رومي مسکوکاتو کي د نیزې انځور مقدس بلل کیده او د قدرت او عظمت بهترین او عالیترین سمبول ګڼل کېده او همدا د ساکانو په سکو کې نیزه د جنګ یوازنی وسیله بلل شوي ده، ولې د کنشکا او د هغه څخه وروسته کوشاني پاچاهانو ته، نیزې بل مفهوم او افاده درلودل . په دې انځور او سمبول کې د هغه مهال وګړو له پاره په مسکوکاتو کي د نیزې انځور د کنشکا مافوق بشري قدرت او روحاني قوت تغښتي وو. په دې اړوند ابوریحان البیروني لیکي .

"کله چې کنك پاچا ته د قنوج د واکمن تحفه راورسیده او ورته وړاندې شوه، کنك پاچا د تحفې په لیدلو په غضب شو. د دې قهر علت دا و چې د تحفې په سر باندې د لاس د علامې پر ځای د پښې علامه موجوده وه. په همدې اساس یې د قنوج د واکمن د مینځه وړلو له پاره لښکر ترتیب کړ. د قنوج په نږدو کې د قنوج د واکمن یوه چالاکه وزیر د کنك افراد او جنګي لښکري داسي دښتي ته وهڅول چي د تندي له امله د جنګ پریښودلو ته اړ شول. په همدې وخت کې کنك پاچا خپله نیزه په ځمکه ووهله او له هماغه ځایه څخه اوبه راوبهېدې (۴: ۸۵) .
یو بل عمده عنصر، چې د کوشاني دورې او خاصتاٌ د کنشکا څخه وروسته د سکو پر مخ لیدل کیږي هغه د اور لمبې دي چې د پاچایانو له اوږو څخه راپورته کیږي. د دې علامې څخه څېړونکو دوې بنسټیزې نتیجې تر لاسه کړیدي: لومړی دا چې د اور لمبې د اور نمانځنې (آتش پرستي) مذهبي عقیدې سره تړاو لري او دوهم تړاو دا چې د کوشاني مسکوکاتو پر مخ د اور لمبې د یوې فکلوریکي کیسې سره اړه لري چي وایي :"کنشکا د کاپیسا په شاوخوا د یوه غره په لمنه کې د یوې ستوپې یا بودایي معبد د ودانولو تکل وکړ. نوموړي معبد شپږ ځله جوړ شو، ولې تر هر ځل جوړېدو وروسته به د (ناګاراجا) (خبیثه ارواح) له خوا ویجاړ شو. پس له شپږم ځله جوړېدو څخه کنشکا د ناګارجا پر ضد جګړه پیل کړه او د جګړې په جریان کې به یي په خپل روحاني قوت د خپلو اوږو څخه د اور لمبې پورته کولې چې په همدې ترتیب یي ناګارجا له هغه ځایه څخه وشاړه او کنشکا خپله ستوپه جوړه کړه او ویي ساتله" (۱: ۴۳)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ



د

مسکوکاتو پر مخ لیکني هم د سکو د مهال سیاسي حالات را څرګندوي، بیا هم د کنشکا مسکوکاتو ته ورځو. د کنشکا د یوې دایروي طلایي سکې توضیح:
وزن: ۱،۲۲ گرینه ( یو گرین د پنځه ویشت پر سل قیراط سره برابریږي )، اندازه : ۰،۸ انچه
د سکې پر مخ او شاه په کوشاني کالیو کې چې لوړ څوکي خولي یې په سر ده، چپنه یې په اوږو او مخ ته یو کوچنی د قرباني میز لیدل کیږي . په کیڼ لاس کې یې یوه اوږده نیزه ښکاري او په خروشتي رسم الخط لیکل شویدي چې:
" د پاچاهانو پاچا کوشاني کنشکا" د سکې په بل مخ د لمر رب النوع "میرو" تصویر لیدل کیږي. (۲ : ۳۳۵)
د پاچاهانو پاچا کوشاني کنشکا د لیکني څخه د شک پرته د هغه مهال ستر توب او عظمت څرګندیږي .

د دې یادونو موخه دا ده چې مسکوکات د خپل اړوند مهال د ټولنو د پیژندلو او د تاریخي پیښو د بیانولو او پوهیدلو له پاره خورا مهم اخځونه او منابع ګڼل شوي دي. د افغانستان په معاصر تاریخ کې هم د مسکوکاتو رول او ونده خورا مهمه او ارزښتمنه ده (3).
د دې وینا د ثبوت یوه بیلګه هم غازي محمد جان خان وردګ ته منسوبه سوې سکه ده چې په زیات شمیر تاریخي متونو کې د هغې یادونه شوې ده . مرحوم استاد احمد علی کهزاد د دې سکې په اړه لیکي :
( در فرصتیکه امیر محمد یعقوب خان بدست انګلیسها بندی شد و قوای خارجی به کابل رسیده بود، یکی از زعمای ملی محمد جان خان وردګ که نام با شهامتش در مسلهٔ اخراج دشمنان ویرد زبان خورد و بزرګ بوده است، در این ګیر ودار از پیدا شدن پاچا افغانستان چنین سکه زد .

**میکنم دیوانه ګی تا بر سرم غوغا شود**
**سکه بر زر میزنم تا صاحبش پیدا شود**

لومړی د سکې په اړه : په زیاتو تاریخي متونو کې د دې سکه یادونه شوې ده، یو شمیر لیکوالو د سکې ضارب څرګند کړی او یو شمیر نور بیا د سکې ضارب نوم ته پام نه دي اړولی، خو د سکې دا یو بیت دومره نامتو سوی او ویل سوېدی چې اوس د اولس او په ځانګړي توګه د مورخینو تر منځ د خپلواکی د شعار او د ملی بغاوت د سمبول په بڼه کارول کیږي.

د دې یوه بیته مورخین زیات مالومات تر لاسه کولای سي. لومړی د دې بیت وضاحت دا دی چې هغه مهال په هیواد کې د ټولو له پاره یو تن منل شوی واکمن نه و، نو ځکه دا سکه د یوه ملي اتل له لوري ضرب شوه او د خپل مهال د سیاسي حالاتو انځور یې پکښې څرګند کړ . دوهم وضاحت دا دی چې دا سکه به تر هغه کارول کیږي چې د هیواد رښتینی واکمن را وړاندي کیږي . په دې ترتیب د دواړو اخیستنو یوه پایله تر لاسه کیږي او هغه دا چې، د انګریزانو سره د جګړې پر مهال افغان ولس یو تن داسي لاربښود نه درلود چې د هغه ملي پاڅون لاربښوونه وکړي. هر افغان زلمي او هر قومي مشر او د هري مدرسي مولوی، په خپلو سیمو کې د دې پاڅون ملاتړ وکړ او ځوانان یې د مورچل تر بریده بدرګه کړل. په دې ډله ملي مشرانو کې یو هم غازي محمد جان خان وردګ و، چې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

خپلي سيمي څخه بيا د هيواد تر مرکزه يي د خپلواکۍ مورچلونه تاوده وساتل او د انګريزي يرغلګرو ځواکونو له پاره يي هر ګام ګورستان کړ.

**پایله :**
د ياد شوي تعبير تر څنګ په دې بيت کي د افغاني دود يوه خورا ستره اخلاقي پانګه نغښتې ده او هغه دا چي: محمد جان خان وردګ د افغاني دود سره برابر د پاڅون مشري کوله، او د سکي د چلولو اړتيا يي محسوسه کړه، د دې له پاره چي په ولسونو کي د منفي تربګنيو او ناوړه سياليو مخه يي نيولي وي، نو يي سکه په خپل نوم ضرب نه کړه بلکي دا حق يي هم خپل ولس او خلکو ته پريښودی چي د دې هيواد مشري چا ته سپاري؟ دا ډول سلوک زموږ په ولسونو کي د زيات درنښت وړ دی . ميرويس نيکه هم هيڅکله د پاچا او يا امير لقب ونه مانه، او پوره اته کاله يې د يوه مشر په نوم د هيواد ملي چاري سمبال کړې.
ستاسو د پاملرني مننه

اخځونه :

١- راولند، بنجامن. هنر هاي قديم افغانستان. مترجم: احمد علي کهزاد، (کابل: فرانکلن) ١٣۴۶.
٢- کهزاد، احمد علی . مسکوکات ماقبل التاريخ افغانستان، سالنامه کابل، ١٣١۶.
٣-کهزاد، احمد علی . مسکوکات دورۀ اسلامي افغانستان . نشرات انجمن تاريخ .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ